دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی:  درویش وردگ

اول فبروری ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۱۰

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**پنځه لسمه مسئله**

داده: چې درسول علیه الصلواة والسلام شفاعت دامت اهل کبائرو لره حق وګڼی. اوهرڅوک چې درسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت څخه منکرشی هغه معتزلی دی.  اودرسول علیه الصلواة والسلام شفاعت دخدای عزّوجلّ په کتاب اوپه خبرکی هم راغلی.

اماکتاب: وَلَسَوفَ یُعطِیکَ رَبُّکَ فَتَرضی. دغه عطا شفاعت دی. او په خبر کی راغلی: چې ابوطلحه روایت کوی رضی الله عنه: چې رسول علیه الصلواة ولسلام ویلی: هرڅوک چې پرما صلواة واستوی اوهغه ماته وړاندی کړی دقیامت په ورځ لومړی دهغه شفاعت کوم.

اوعایشه رضی الله عنها روایت کوی: چې یوه ورځ رسول علیه الصلواة والسلام زما په حجره کی و، چې وینمه شوم نو رسول علیه الصلوة والسلام می ونه لید. چې پسی وګرځیدم هغه می په لمانځه کی ولید.کله چې له لمانځه څخه فارغ شو. سریې په سجده کښیښود او ویل یې: زما امت! زما امت! اوداسی یې وژل چې زه یې هم په ژړا کړم.

ورته ومې ویل یا رسول الله! دا امت څوک دی؟ چې په دی حال اوپه دی زاریو دخدای عزّوجلّ څخه ددوی ښنه غواړی؟ وویل: یا عایشه! هغه امتان چې وروسته له ځلورسوه کاله راووزی، ترڅو چې په دنیا کی اوسم وایم به: امتی. اودقیامت په ورځ به هم وایم: امتی! امتی!

پس فرمان راغی: ای زما حبیبه! هرڅوک چې ستا له امت څخه زما په یوالی ګواهی ورکړی اوستا په رسالت اقرارورکړی، هغه می ټول ستا په شفاعت سره وبښل.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنه ویلی: له کعب الاحبارڅخه می وپوښتل: ولی درسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمان نه شوی؟ چې دعمررضی الله عنه په وخت مسلمان شوی؟ وویل: ځکه چې په تورات کی می وموندل چې پلرونو له مونږڅخه پټ ساتلی و اوهغه داچې: دمحمد صلی الله علیه وسلم امت څخه به دری ډلی جنت ته ځی. یوه ډله به بی

حسابه جنت ته ځی. یوی ډلی لره به حساب وی اوبیابه جنت ته ځی. اودریمه ډله چی دکبائرو کړونکی به وی هغوی به دمحمدعلیه الصلوة اوالسلام په شفاعت سره جنت ته ځی.

څرنګه چی می په توارت کی داسی ولیدل اوپه قرآن کی می هم ولیدل نوځکه مسلمان شوم قوله تعالی فَمِنهُم ظَالِمْ لِنَفسِهِ وَمِنهُم مُقْتَصِدْ وَمِنهُم سَابِقْ بِالْخَیراتِ. پس باک نلرم، چی له دی دریو ډلوڅخه دهرکومی چی اوسم نو آخربه جنت ته ځم.

اورسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی: زما شفاعت ، زما دامت دکبائرو اهل لره دی. وویل: هرپیغمبرلره یوه دعا مستجابه وه، اوزما مستجابه دعا زما دامت عفوغوښتل و.

اورسول علیه الصلوة والسلام وویل: دصلاح اوعافیت اهل لره زما دشفاعت حاجت نشته، اودوی لره دخلکو شفاعت شته. اوزما شفاعت دکبیره ګناهونو کړونکو لره دی.

پس هرڅوک چی له شفاعت څخه منکره شی، نودرسول الله علیه الصلوة والسلام دشفاعت نصیب نشته. همدومره بس دی هوښیارلره.

## شپاړلسمه مسئله

داده چی درسول الله صلی الله علیه وسلم دمعراج شپه، اوآسمان ته دهغی وړل حق وګڼی. ځکه درسول الله صلی الله علیه وسلم معزاج دکتاب په نص سره حق دی. قوله تعالی: سُبحَانَ الَّذِی اَسری بِعَبدِهِ لَیلاً مِنَ المَسجِدِ الْحَرامِ اِلَی المسجدِ الْأَقصی الَذِی بَارَکْنَا حَولَهُ.

اوبل ځای فرمایی: وَالنَّجمِ اِذا هَوی. وجای دیګر ګفت: ثُمَّ دَنَا فَتَدلّی فَکَانَ قَابَ قَوسَینِ اَواَدنی، فَاَوحی اِلی عَبدِهِ مَا اَوحی. تآانجا که: مِن آیَاتِ رَبِّهِ الْکُبری..

اوداټول آیتونه دادی: چی هغه یی آسمان ته یووړ. اګرکه ځینی آیتونه تأویلوی، تربیت المقدس پوری رسیږی. اوهرڅوک چی تربیت المقدس پوری منکرشی هغه کافردی. اوکه تربیت المقدس پوری مقرشی اوووایی چی په خوب کی یی ولید،یا ووایی چی زه نه پوهیږم آسمان ته په تلو، هغه مبتدع اوهواداردی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: چی په هغه شپه چی زه یی معراج ته بولم، جبرئیل علیه السلام براق راوړ، زین کړی اوقیضه کړی او وویل: کښینه! غوښتل می چی کښینم، براق تندی وکړه. جبرئیل علیه السلام تازیانه کړ اووویل: نه پوهیږی! چی داڅوک دی؟ وویل: پوهیږم چی محمّد مصطفی صلی الله علیه وسلم دی. وویل: له هغه باغه چی زه دراوستم شپیته زره نوربراقان هم شته،ټول دمصطفی په ښنان. که زه نن دی پریږدم چی راباندی سپورشی،نوزه به دده دوصال سره خوی واخلم. اوسبا چی په بل براق سپریږی، زه ددغسی فراق طاقت نلرم. زه خپله نه غواړم چی راباندی سپورشی.ترڅویی سبا دفراق رنځ یو نه سم. رسول علیه الصلوة والسلام پوښتل چی براق څه وایی؟ جبرئیل علیه السلام هغه حال له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره شریک کړ. رسول علیه السلام وفرمایل: براق ته ووایه چی زه درسره وعده کوم چی دقیامت په ورځ به په تاسپریږم.

اوپه براق کښیناست. تربیت المقدس پوری یی مرکب براق و او له بیت المقدس څخه ددنیا ترآسمانه یی معراج و، اوددنیا له آسمانه تر دویم آسمان پوری یی مرکب جزوم ؤ . اوله دوهم آسمان بیا تر سدرة المنتهی مرکب یی جبرئیل و. اوله سدرة المنتهی ترمنظراعلی پوری مرکب یی رفرف و. اوله منظراعلی بیا ترکرسی پوری مرکب یی تائید اوله کرسی ترعرشه مرکب یی عزت و. اوله عرش بیا ترقاب قوسین پوری مرکب یی قدرت و. اوهمدارنګه چی له مرکبه ترمرکبه پوری توپیرو.داسی هم درسول الله صلی الله علیه وسلم ترنورو رسولانو پوری فرق و. اوهرپیغمبرلره معراج و اوهریوه لره مرکب و.

دآدم علیه السلام معراج داو چی زرین تخت دڅلویښتو فرشتو په غاړه دنیا ته راواستول شو، ترڅویی آدم په هغه تخت کښیناوه اوجنت ته یی بوت. اودادریس علیه السلام مرکب مو به هغه فرشته کړچی په لمرموکل ده. اودنوح علیه السلام مرکب مو سفینه کړه.دصالح علیه السلام مرکب مو ناقه کړه،دابراهیم علیه السلام مرکب مو منجنیق کړ، اودسلیمان علیه السلام مرکب مو بادکړاودیونس علیه السلام مرکب مو ماهی کړ، اودموسی علیه السلام مرکب مو عصا کړه اودعیسی علیه السلام مرکب مو په فرشتوکړ. اودمصطفی علیه الصلوة والسلام مرکب مو براق کړ، معراج موکړ، جزوم موکړ اورفرف موکړ، جبرئیل موکړ، عزت موکړ اوقدرت موکړ.

لومړی کس چی دمصطفی علیه الصلوة والسلام معراج یی مقر( تائید) کړ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه و اوهرڅوک چی دمعراج تائید وکړی نو امام یی ابوبکرصدیق دی اوهرڅوک چی تری منکرشی نو امام یی ابوجهل دی.

اودمعراج په هکله ډیرآیات اواخبار راغلی. ولی هوښیارلره همدومره بس دی.